مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ١٦٦** (از ۱ الی ۸ جوزا ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

**د طالبانو د رهبرۍ بدلون او پر روان وضعيت يې اغېزې**

- له مرستيالۍ تر مشرۍ د ملا منصور سفر........ ۴
- د طالبانو د پخواني مشر د سولې تګلاره........ ۴
- د طالبانو نوې رهبري........ ۵
- د سولې برخليک........ ٦

**بندر چابهار و روابط کابل-تهران-دهلی‌نو**

- روابط سه جانبهٔ ایران-افغانستان-هند........ ۸
- پیشینهٔ ساخت بندر چابهار........ ۹
- چابهار؛ در سایهٔ تاثیرات سیاست‌های منطقوی و بین‌المللی........ ۱۰
- تاثیر موافقت‌نامهٔ چابهار بر منطقه و افغانستان........ ۱۱

## مقدمه

د افغان طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور تېره اوونۍ د امریکایي بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو. طالبانو د نوموړي له وژل کېدو سملاسي وروسته، د یوې اعلامیې په خپرولو سره خپل نوی مشر او د هغه مرستیالان اعلان کړل. د امریکا حکومت د ملا منصور وژنه د افغان سولې د بهیر پر وړاندې د ستر خنډ له منځه وړل وبلل؛ خو پوښتنه دا ده، چې ایا رښتیا هم د نوموړي له وژل کېدو سره افغان سولې ته لاره پرانېستل شوه؟ د طالبانو د نوي رهبرۍ دریځ به له افغان حکومت سره د سولې په تړاو څه وي؟ او په ټولیز ډول به د طالبانو د رهبرۍ بدلون د هېواد پر روان وضعیت څه اغېزې وکړي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې، د چابهار بندر په اړه د افغانستان-ایران-هند د ګډ هوکړه‌لیک او پر افغانستان او سیمه یې د اغېزو په اړه لولئ. تېره دوشنبه د چابهار ترانزیټي بندر د پراختیا هوکړه‌لیک په تهران کې د درې واړو هېوادونو د مشرانو په حضور کې د ترانسپورټ وزیرانو له خوا لاسلیک شو. د دغه هوکړه‌لیک له لاسلیک وروسته درې واړو مشرانو په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې ګډون وکړ او دا هوکړه‌لیک یې د سیمې د اقتصادي پرمختګ لپاره یو مهم ګام وباله. د چابهار بندر پروژه به په دغو درې اړخیزو اړیکو څه اغېزې وښندي؟ او دغه راز به د دغې پروژې پلي کېدل د سیمې او افغانستان پر اقتصادي وضعیت څه اغېز وکړي؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د ځانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# د طالبانو د رهبرۍ بدلون او پر روان وضعیت یې اغېزې



د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور د جوزا په لومړۍ نېټه (۱۳۹۵) د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمه کې د امریکایي بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو.

د نوموړي د وژل کېدو خبر په لومړي ځل د امریکا دفاع وزارت خپور کړ او ویې ویل، چې پر نوموړي برید د امریکا د ولسمشر بارک اوباما په اجازه ترسره شوی؛ ځکه دی د سولې په لاره کې ستر خنډ و. د امریکا له دغې ادعا وروسته، د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ، اجرائیه ریاست، ملي امنیت او کورنیو چارو وزارت هم د ملا منصور وژنه تایید کړه.

طالبانو بیا څلور ورځې وروسته د خپل مشر وژل کېدل د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره نه یوازې دا چې ومنل، بلکې د ده پر ځای ټاکل شوی کس یې هم د خپل نوي مشر په توګه اعلان کړ. د طالبانو په اعلامیه کې راغلي چې د ملا اختر محمد منصور مرستیال مولوي هبت الله اخوندزاده د نوي امیر په توګه ټاکل شوی او سراج الدین حقاني، او د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر زوی مولوي محمد یعقوب یې مرستیالان ټاکل شوي دي.

اوس پوښتنه دا ده، چې د نوموړي وژل کېدل به خپله د طالبانو پر ډله څه اغېزې وکړي؟ د دغې ډلې د رهبرۍ بدلون به څه بدلونونه راوړي او د نوي مشر دریځ به له افغان حکومت سره د سولې په تړاو څه وي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې دلته ځوابوو.

## له مرستیالۍ تر مشرۍ د ملا منصور سفر

له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغان طالبانو له بیا راپورته کېدو راهیسې د دغې ډلې رهبري د نیول کېدو، بندي کېدو او وژل کېدو له پړاوونو تېره شوه. په ۲۰۰۷ کال کې د طالبانو د تحریک دویم کس او د ملا محمد عمر مرستیال ملا عبیدالله اخوند د پاکستان لهخوا ونیول شو او په ۲۰۱۰ کال کې په زندان کې مړ شو. که څه هم لا تراوسه دا معلومه نه ده، چې دی په خپل مرگ مړ شو او که د پاکستان لهخوا ووژل شو؟

د ملا عبیدالله اخوند له نیول کېدو وروسته، ملا عبدالغني برادر د ملا محمد عمر مرستیال وټاکل شو او د ملا برادر مرستیال بیا ملا اختر محمد منصور و. په ۲۰۰۹ کال کې د ملا عبدالغني برادر له نیول کېدو وروسته، ملا اختر محمد منصور د ملا محمد عمر مرستیال (د طالبانو دویم نمبر کس) شو او د طالبانو د تحریک تنظیمي چارې یې پرمخ وړلې. په ۲۰۱۳ کال کې د ملا محمد عمر له مړینې وروسته، د طالبانو د تحریک بشپړ واک ده ته انتقال شو (که څه هم افغان طالبانو ته د یوې نږدې سرچینې له قوله، له ۲۰۰۹ کال راهیسې ملا محمد عمر د تنظیمي او نظامي چارو ډېری واک ده ته سپارلی و). خو د ملا محمد عمر مرگ د ۲۰۱۵ کال تر جولای میاشتې پورې پټ وساتل شو. د ملا محمد عمر د مرگ خبر د «مرې» له مخامخ خبرو اترو وروسته افشا شو. افغان طالبانو هم د خبر له افشا کېدو څو ورځې وروسته دغه خبر تایید کړ او ترڅنگ یې ځای‌ناستی ملا اختر محمد منصور غوره کړ. د ملا منصور له ټاکل کېدو سره، د افغان طالبانو په لیکو کې اختلافات پیل شول؛ خو ملا اختر محمد منصور له وژل کېدو څو میاشتې وړاندې، تر ډېره دغه اختلافات کم کړل او ترڅنگ یې د ملا ذاکر، د ملا محمد عمر کورنۍ (ملا یعقوب او ملا عبدالمنان) او ملا حسن رحماني ملاتړ هم ترلاسه کړ.

## د طالبانو د پخواني مشر د سولې تگلاره

د ملا اختر محمد منصور له مرستیالۍ څخه تر مشرۍ پورې، په ټوله دوره کې افغان طالبان له لوړو او ژورو سره مخ شول. د سولې په اړه هم په دغه دوره کې پرمختگونه وشول، چې تر شا یې د ملا اختر محمد منصور رول جوت و.

په دغه دوره کې، افغان طالبانو په قطر کې خپل سیاسي دفتر پرانیست او د دغه دفتر له لارې افغان طالبانو له نړیوالو هېوادونو سره خبرې اترې پیل کړې. دغه دفتر د ځینو بندیانو په خوشې کولو او تبادله کولو کې رول ولوباوه، په نورو هېوادونو کې یې د سولې په اړه په کنفرانسونو کې برخه واخیسته او خپله تګلاره یې نړیوالو ته ورسوله. له دې وراخوا د ملا منصور په دوره کې د پاکستان په مري کې د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ لومړنۍ رسمي مخامخ خبرې اترې هم وشوې، چې له بده مرغه بیا د ملا محمد عمر د مرګ له افشا کېدو سره سبوتاژ شوې.

د ملا منصور په دوره کې د افغانستان په شمال کې یو شمېر ولسوالۍ سقوط شوې او تر ټولو مهمه پېښه یې د افغانستان د شپږم لوی ښار (کندز) سقوط و، چې د ۱۳۹۴ کال د میزان په ٦مه د دوو اوونیو لپاره د طالبانو ولکې ته ورغی.

که څه هم ده په خپله دغه ۱۰ میاشتنۍ دوره کې د افغان حکومت د سولې تګلارې ته مثبت ځواب ونه وایه؛ خو افغان طالبانو ته د نږدې سرچینو له قوله، دی سولې ته مایل و؛ خو سوله یې پر هغو شرایطو نه غوښته، چې افغان حکومت وضع کړي وو.

د نوموړي له وژل کېدو وروسته په رسمي بیانونو کې ویل کېږي، چې دی د سولې په لاره کې ستر خنډ و؛ خو داسې تحلیلونه هم شته چې نوموړی، له روسیې سره د طالبانو د نږدې کېدونکو اړیکو او قطر ته د افغان ولسمشر له وروستي سفر وروسته، له دغه دفتر سره د احتمالي مخامخ خبرو اترو د پیلېدو له وېرې، له منځه وړل شوی وي.

افغان طالبانو هم په خپله اعلامیه کې دې خبرې ته اشاره کړې، چې نوموړی «تحمیلي او تزویري پروسو» ته د غاړې نه اېښودو له کبله په نښه شو، چې دغه اشاره بیا ځلور اړخیزو ناستو ته ده.

## د طالبانو نوې رهبري

که څه هم د ملا منصور وژنه پر افغان طالبانو ستر ګوزار و؛ ځکه ده له ۲۰۰۹ کال راهیسې د افغان طالبانو تنظیمي او نظامي چارې سمبالولې او د افغان طالبانو د ستراتیژۍ (سولې او جګړې) لویه برخه د ده لخوا پرمخ بېول کېده؛ خو بیا هم د افغان طالبانو شل کلن تاریخ او په تېره بیا له ۲۰۰۱ کال وروسته تراوسه نورې داسې

پېښې هم شوې، چې د افغان طالبانو رهبري يا له منځه تللې او يا ترې لوړ پوړي چارواکي بېل شوي؛ خو بيا يې هم په نظامي ډګر کې پر دغې ډلې پام وړ اغېزې نه دي لرلې.

د طالبانو نوی مشر مولوي هبة الله د طالبانو د رژيم پر مهال د نظامي محکمې مشر و او د طالبانو د رژيم له ړنګېدو وروسته، د دغې ډلې قاضي القضات هم و. نوموړی له تېر کال راهيسې د ملا اختر محمد منصور د مرستيال په توګه دنده ترسره کوله.

په ټوليز ډول د طالبانو په نوې رهبرۍ کې ډېر انقلابي بدلون نه تر سترګو کېږي؛ ځکه نوی مشر او سراج الدين حقاني د ملا اختر محمد منصور مرستيالان وو او ملا يعقوب ته هم، په وروستيو کې د ملا اختر محمد منصور له‌خوا د طالبانو په رهبرۍ شورا کې ځای ورکړل شوی و.

## د سولې برخليک

د طالبانو په نوې رهبرۍ کې هغه کسان دي، چې ملا منصور ته ډېر نږدې پاتې شوي. د دغو درې واړو د مشرۍ تر شا، لاندې عوامل شته دي:

- ملا هبة الله د افغان طالبانو په علماو کې رول لري؛
- سراج الدين حقاني د جګړې په ډګر کې پراخ رول لري؛
- او د ملا يعقوب له ټاکلو سره هڅه وشوه، ترڅو طالبان پر نوې اعلان شوې رهبرۍ راټول کړي.

که څه هم تر اوسه د طالبانو نوي مشر کوم غږيز پيغام او يا کومه اعلاميه نه ده خپره کړې، چې له مخې يې څرګنده شي، چې د سولې او جګړې په اړه د دوی راتلونکې ستراتيژي څه دي؟ خو بيا هم دا چې ملا هبة الله او سراج الدين حقاني د ملا منصور مرستيالان وو، نو د افغان طالبانو د (جګړې او سولې) تګلاره به هم ډېر بدلون ونه مومي او د جګړې په ډګر به هم د دوی اغېز ډېر جوت نه شي. د دې ترڅنګ د طالبانو له ډلې څخه د کومې لويې ډلې بېلېدل هم شوني نه برېښي.

دا حقیقت اوس د جګړې ښکېلو لورو درک کړی، چې جګړه د افغان قضیې د حل لاره نه ده او همدغه روانه جګړه به هم بالاخره د خبرو اترو له لارې حلېږي، خو دا چې اوس د بهرنیو ځواکونو ډېره برخه له هېواده وتلې؛ که افغان حکومت دا ځل د نورو هېوادونو له لارې د فشار پر ځای د طالبانو له ډلې سره د مخامخ خبرو اترو لپاره د یوه منځګړي افغان لوري کارډ وکاروي، ښايي طالبان له افغان حکومت سره خبرو اترو ته زړه ښه کړي.

# بندر چابهار و روابط کابل-تهران-دهلی‌نو



موافقت‌نامۀ توسعۀ بندر چابهار در حضور اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان، نارندرا مودی نخست وزیر هند و حسن روحانی رئیس جمهور ایران، توسط وزیران ترانسپورت سه کشور، روز دوشنبه (۲۳ می ۲۰۱۶) در تهران به امضا رسید. سران سه کشور امضای این موافقت‌نامه را یک گام مهم در راستای توسعۀ اقتصادی منطقه عنوان نمودند.

این موافقت‌نامۀ سه‌جانبه در هر سه کشور مورد استقبال قرار گرفت. حکومت امریکا نیز به گونۀ از این توافق استقبال کرد، ولی دو کشور منطقه که از رقبای این پروژه پنداشته می‌شود، تاکنون رسما در مورد امضای موافقت‌نامۀ بندر چابهار واکنشی نشان نداده است.

با در نظرداشت مراحل ساخت این بندر، این پروژه تا چه حد از سیاست‌های منطقوی و بین‌المللی متأثر گردیده است؟ و همچنان تاثیرات این پروژه، روی اقتصاد افغانستان و منطقه چیست؟

## روابط سه جانبۀ ایران-افغانستان-هند

هرچند افغانستان با ایران و هند روابط دیرینه و تاریخی دارد، اما در تاریخ معاصر افغانستان همکاری ایران و هند در افغانستان پس از خروج نیروهای شوروی آغاز گردید. قبل از خروج نیروهای شوروی از افغانستان، منافع ایران و هند در

افغانستان در تضاد همدیگر قرار داشت. از سال ۱۹۴۷ الی سال ۱۹۹۱ میلادی منافع ایران-پاکستان نسبت به منافع ایران-هند در افغانستان، به همدیگر نزدیک‌تر بود.

پس از سال ۲۰۰۱، روابط ایران-هند در افغانستان تا حدی به هم نزدیک بود که در این عرصه ساخت بندر چابهار و تجارت دوجانبه از این طریق، به سمبول همکاری میان دو کشور مبدل گردید و بندر تجارتی و ترانزیتی چابهار، نقطهٔ پیوند منافع کابل-تهران-دهلی‌نو پنداشته شد. توافقنامه سه‌جانبه چابهار عملاً می‌تواند زمینه‌ساز تحولی بزرگ در روابط سه جانبه و منطقه‌ای هند ایران و افغانستان شود و بر دایرهٔ مشترکات و تعاملات سیاسی سه‌جانبه بیفزاید.

## پیشینهٔ ساخت بندر چابهار

بندر چابهار در ایالت سیستان بلوچستان در جنوب شرق ایران موقعیت دارد. از نظر موقعیت استراتیژیک، این بندر در ساحل دریای عمان و دریای هند و نزدیک به تنگهٔ استراتیژیک هرمز قرار دارد و لنگرگاه این بندر قابلیت پهلوگیری کشتی‌های بزرگ را دارد. چابهار علاوه بر موقعیت استراتیژیک، دارای جاذبه‌های فراوان طبیعی است. آب و هوای این منطقه همیشه‌بهاری و معتدل است و به همین دلیل چابهار (چهاربهار) نامیده می‌شود.

بندر چابهار اهمیت استراتیژیک برای هند دارد، چون در راه تجارت این کشور با افغانستان و آسیای میانه، پاکستان قرار دارد. در سال ۲۰۰۳ زمانی که در هند حزب "بی جی پی" بر سر اقتدار بود، اتل بهاری واجپایی نخست وزیر هند موافقت‌نامهٔ ساخت این بندر را با حکومت ایران به امضا رساند و حکومت افغانستان نیز بخشی از این موافقت‌نامه بود. ولی به خاطر تحریم‌های بین‌المللی علیه ایران توافق توسعهٔ این بندر به تاخیر افتاد. با آن هم، هند تاکنون در راستای همین طرح، ۱۳۵ میلیون دالر برای ساخت سرک زرنج- دلارام در افغانستان هزینه کرده است که "زرنج" مرکز ولایت نیمروز را با بندر چابهار وصل می‌کند و کار ساختش در سال ۲۰۰۹ توسط هند تکمیل گردید. اکنون پس از امضای موافقت‌نامهٔ سه جانبه، هند برای توسعهٔ این بندر ترانزیتی ۵۰۰ میلیون دالر هزینه خواهد کرد.

ایران از سال ۲۰۰۳ به این سو، در زون تجارتی چابهار حدود ۳۴۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری کرده است. ظرفیت تخلیه و بارگیری این بندر اکنون سالانه حدود ۲.۵ میلیون تُن می‌باشد و حکومت ایران تلاش دارد تا ظرفیت این بندر را به ۱۲.۵ میلیون تُن بالا ببرد. در کنار این، ایران از همین شهر الی سرحد با افغانستان نیز در قسمت ساخت سرک‌ها و راه‌آهن سرمایه‌گذاری کرده و همچنان سایر کشورهای منطقه را به سرمایه‌گذاری در این بندر تشویق می‌کند.

توافق نهایی سه‌جانبه ترانزیتی چابهار در سال‌های ۲۰۱۵ و ۲۰۱۶ توسط تیم‌های فنی اقتصادی، متخصصان حقوقی و کارشناسان هند، ایران و افغانستان تهیه شد.

## چابهار؛ در سایهٔ تاثیرات سیاست‌های منطقوی و بین‌المللی

بندر چابهار از سال ۲۰۰۳ بدین‌سو تحت تاثیرات عمیق سیاست‌های منطقوی و بین‌المللی قرار داشته است که مختصراً در چند نکات بیان می‌گردد:

- **مشکل ترانزیت افغانستان؛** یکی از عوامل عمدهٔ ساخت این بندر رقابت و مشکلات سیاسی پاکستان با هند می‌باشد. پاکستان با شمولیت هند در قرارداد ترانزیتی "اپتا" مخالفت می‌نماید. تاجران افغان علاوه بر هند، در تجارت با سایر کشورها نیز با مشکلات از سوی پاکستان روبرو می‌شدند. بناء، این بندر به نحوی رقیب بندر کراچی پاکستان، برای افغانستان است.
- **قرارداد اتومی-ملکی امریکا و هند؛** در سال ۲۰۰۵ قرارداد همکاری اتومی میان امریکا و هند به امضا رسید که هند به خاطر همین قرارداد، روابط خویش با ایران را محدود ساخت و کار ساخت بندر چابهار نیز به کندی گرایید.
- **تحریم‌های امریکا و شورای امنیت سازمان ملل متحد بر ایران؛** از سال ۲۰۰٦ بعد از سوی امریکا و شورای امنیت سازمان ملل متحد تحریم‌های اقتصادی بر ایران وضع گردید و این تحریم‌ها داد و ستد اقتصادی کشورهای منطقه با ایران را تا حدی زیادی محدود نمود.
- **رفع تحریم‌های بین‌المللی از ایران؛** پس توافق اتومی گروه ۱+۵ و ایران در سال ۲۰۱۵، تحریم‌ها و فشارهای بین‌المللی از ایران برداشته شد و این وضع، کشورهای دیگر را تشویق به گسترش روابط با ایران نمودند. رفع تحریم‌ها از ایران بار دیگر موجب تسریع کار ساخت بندر چابهار گردید.
- **حوزهٔ اقتصادی چین-پاکستان و رقابت هند-چین در منطقه؛** حوزهٔ اقتصادی چین-پاکستان و رقابت هند-چین در دریای هند نیز باعث گردیده تا هند پروژهٔ بندر چابهار را آغاز و کار این پروژه را سرعت بخشد.

## تاثیر موافقت‌نامهٔ چابهار بر منطقه و افغانستان

تطبیق پروژه بندر چابهار در رشد اقتصادی افغانستان و تجارت با هند و کشورهای آسیای میانه از اهمیت والایی برخوردار است. این راه ارتباطی به هند و افغانستان کمک می‌کند تا به بازارهای جدیدی در آسیای میانه دسترسی پیدا کنند.

بندر چابهار به کشورهای آسیای میانه مانند افغانستان که محاط به خشکه است، فرصتی را فراهم می‌کند تا برای ترانزیت خویش تنها روی یک کشور متکی نباشد و مسیری به یک بندر دیگر دریایی را نیز داشته باشد. بنابراین، ساخت این بندر تلاش برای رهایی کشورهای آسیای میانه به خصوص افغانستان از وابستگی به راه ترانزیتی پاکستان پنداشته می‌شود. از سوی دیگر، بندر چابهار در مقایسه به بندر کراچی پاکستان به مرکز افغانستان نزدیک‌تر است و تاجران افغان می‌توانند در وقت کمتر و هزینهٔ کمتر اموال خویش را با کشورهای دیگر مبادله نمایند.

بندر چابهار برای هند نیز از اهمیت فراوانی برخوردار است. هند، در حالی که رقیب منطقوی‌اش (چین) از راه «یک سرک-یک حلقه» فعالیت‌های خویش را در آسیای میانه تقویت می‌کند، می‌خواهد با افغانستان و آسیای میانه مستقیما وصل شود. از جانب دیگر، بندر چابهار حیثیت دروازه به بازارهای آسیای میانه برای هند دارد، چون در روابط اسلام‌آباد و دهلی‌نو به دلیل تنش‌های دیپلماتیک محدودیت‌هایی وجود دارد ولی با اجرای این توافق، اموال هندی به آسانی و بدون گذشتن از پاکستان به بازارهای افغانستان وارد می‌شود.

نخست وزیر اسبق هند منموهن سنگ امنیت انرژی را پس از امنیت غذا اولویت دوم کشورش خوانده بود. در حالی که هند نیازمند تیل و گاز است، این کشور تلاش دارد تا از این راه تجارت گاز و تیل را با ایران افزایش دهد. در عرصهٔ صادرات نیز پیشرفت‌هایی نصیب هند خواهد شد، چون از طریق این بندر تجارت این کشور با افغانستان و آسیای میانه افزایش خواهد یافت.

ایران از یک‌سو ذخایر فراوان تیل و گاز دارد و می‌خواهد تیل و گاز خود را به بازاهای بین‌المللی عرضه نماید و از سوی دیگر می‌خواهد به دروازهٔ ترانزیت به آسیای میانه مبدل گردیده و حیثیت دهلیز ترانزیتی حمل و نقل بین‌المللی را به خود گیرد. به همین دلیل این بندر برای ایران نیز حایز اهمیت می‌باشد. اگر روابط افغانستان-پاکستان و روابط هند-

پاکستان خوب می‌بود، شاید ایران به این وضعیت دست نمی‌یافت، اما حالا که روابط افغانستان-پاکستان و روابط هند-پاکستان متشنج می‌باشد، اهمیت تجارتی، ترانزیتی و اقتصادی بندر چابهار چند برابر افزایش یافته است.

گرچند موافقت‌نامهٔ چابهار یک قرارداد تجارتی و ترانزیتی می‌باشد، اما در کنار منافع اقتصادی برای سه کشور، منافع سیاسی و امنیتی را نیز دارا می‌باشد. این موافقت‌نامه از لحاظ سیاسی، باعث هماهنگی بیشتر میان کابل، تهران و دهلی‌نو می‌گردد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.